دوکتور عثمان روستارتره کي


۱۹ اگست ۲۰۱۲

## د جنګي جنايت کارانو د محاکمي په اړه

### د بينوا سايت يو سؤال ته ځواب

سلامونه ګران ترکي صيب مينه مو ومنه

په همدي هيله چي سوکاله او خوشحاله به ياست

موږ په بېنوا کي يو کالم لرو چي سرليک ئي دي (زما پوښتنه دبېنوا پوښتنه) او په دې کي ستاسو په څير د بيلابيلو علومو ديوهانو، سياست دانانو او منورينو څخه دبېنوا د پاڼي دايډيټور په توسط يوه يوه پوښتنه کيږي البته په سپينه ژبه او زموږګران پوهان به ئي جواب د يوي مفصلي ليکي په ترتيب موږته راليږي. چي ورسته به په بېنوا کي خپرېږي . ښائي ځيني پوښتني او جوابونه ترخه او پارونکي هم وي خو له اره به پرحقايقو ولاړ وي

له تاسي درانه ترکي صيب څخه مو پوښتنه داده :

له حقوي اړخه د انتقالي عدالت د پلي کيدلو په مخنيوي کي د افغانستان د دولت اساسي هدفونه څه دي ؟

که په سپينه ووايو دولت ولي نه غواړي د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د سرغړونو ۸۰۰ مخيز راپور خپور شي؟

آيا افغانان عدالت نه غواړي او که په زوره د عدالت څخه محروميږي ؟

***

په افغانستان کي د شوروي اتحاد د يرغل نه وروسته تر اوسه پوري يعني په دري لسيزه کي د جګړي اور بل دي .

بيشمير افغانان وژل يا ژوبل شويدي . دري مليون افغانان کډي ته اړ شوي . د نړي په کچه افغانستان د کدواليتوب او بيوزليتوب لمړي درجه مقام لري.

د کورنيو او بهرنيو دشمنانو په واسطه ، زموږ د تولني د ثبات ، سياسي ، فرهنګي او تولنيز ارزښتونه تر سوال لاندي راوستل شوي .

دغه ناورین د حقونو د بنیادونو په بنست د جنایت تر عنوان لاندي راځي او ځانته په ملي او نړیواله کچه مسئولین لري ، چه باید وروپیژندل شي . د دي د پاره چه جنایت د جګړي په موده کي ترسره شویدي ورته جنګي جنایت او مسئولینو ته یي د جګړي جنایت کاران او د بشري حقونو سرغړونکو ویلي شو.

عدالت او په تولنه کي سوله ایز ګډ ژوند چه د غچ اخیستني نه پاک وي ، غوښتنه لري چه پیژندل شوي جنایت کارانو ته سزا وتاکل شي .

د دغه واقعیت په نظر کي نیولو سره چه سوله او سیاسي ثبات د عدالت د تأمین د پروسي نه باید تیر شي ، په افغانستان کي د جنګي جنایت کارانو د محاکمي د پاره دوی لاری مطرح کیداي شو :

**لمړي ـ په ملي کچه :**

د جنګي جنایت کارانو محاکمه یو پیاوړي ، ملي او د جنګي جنایت کارانو د اغیز نه پاک یو حکومت تر لاس لاندي نیولي شي . دغه حکومت باید :

- د معیاري امنیتي او قضایي اورګانونو په درلودلو سره د قانون د پلي کولو ظرفیت ولري .
- د تورنو کسانو د محاکمي په مقصد د سزا ځانګړي قانون تنظیم او ځانګړي څارنوالي او محکمه جوړي کړي.
- د جنګي جنایت کارانو د بیرته سپارني په مقصد د بهرنیانو سره تړونونه لاسلیک کړي.

د جینوا کانوانسیون پدغه برخه کي کلک درېز لري : د ۱۹۰۷ او ۱۹۴۹ م کال کانوانسیونونه ( لمړي نمبر پروتوکول ) په ۸۸ ماده کي وایي : « کله چه اوضاع او احوال غوښتنه وکي باید د کانوانسیون لاسلیک کونکو د تورنو کسانو بیرته سپارنه په اړه سره همکاري وکي » .

اوسني حکومت د جنګي جنایت کارانو د محاکمي داعیه پرمخ بیولي نشي .ځکه چه :

- د حکومت واک د هغو کسانو په لاس کي دي چه د عدالت د پلي کیدو په ضد د مقابلي ناوړه سابقي لري .
- نړیوال نظامي ائتلاف د همدغه کسانو په ملګرتیا د ادعا شوي امنیت ( ! ) د ساتلي ذمه واري لري او نه غواړي چه د طالبانو سره د جګړي نه پرته د جنګ سالارانو سره د جګړي بله نوي جبهه پرانیستل شي .

**دوهم ـ د نړي په کچه :**

د دغه واقعیت په پام سره چه عدالت د نړیوال کیدو پروسه تعقیبوي ، دوه الترنتیفونه مطرح کیداي شو :

الف . د یو « ادهوک » یا « اقتضایي لند مهاله » محکمه جوړول . « ادهوک » محکمه د یو حقوقي دود په توګه د دویم نړیوال جګړي د جنایت کارانو د محاکمي د اړتیاوو په بنست باندي د ۱۹۴۵ م کال راهیسي رامنځته شو . پدي لړ کي د روندا او تانزانیا نړیوال جزایي محکمه (۱۹۹۴) ، د یوګوسلاویا جزایي محکمه ( ۱۹۹۳ ) د مثال په توګه یادولي شو .

د محکمي د جوړیدو پریکړه د امنیت شورا له خوا صادریږي . مثالونه شته چه د امنیت شورا دایمي غړي د محکمي د جوړیدو یا نه جوړیدو نه د یو سیاسي لاسوند په توګه ګته پورته کړي ده . په بل عبارت عدالت د سیاسي ملاحظاتو تر اغیز لاندي حاشیي ته لویدلي ده .

د افغانستان په دیرش کلنه جګړه او د هغي نه په رازیږیدل شوي جنایتونو کي ، پرته د چین نه د امنیت شورا نوري غړي په مستقیم یا غیر مستقیم دول ګډون لري :

شوروويانو (روسي اوسني دولت د شوروي دولت د حقونو او مکلفيتونو وارث ګڼل کيږي) د افغاني کمونيستانو د واکمني په موده کي او نړيوال نظامي ائتلاف په وروستي لسيزه کي (د جګړي د لاري د ديموکراسي د صدور او تپلو  په ترڅ کي ) ، په بي شمير جنګي جنايتونو په ارتکاب تورن دي : د مثال په دول ، په افغانستان باندي د امريکا د يرغل په درشل  کي په ليلي دښته کي اتکل څلور زره طالب جنګيالي وروسته له دي چه د يو تړون په بنست باندي ځانونه تسليم کړل ،  په شهادت ورسيدل . د امريکايي مشهوري مجلي نيوزويک په قول د تړون د انعقاد په وخت د امريکا ځواکونو ۱۲ کسانو ( سپيشل فورس ) حضور درلود . دغه جنايت د مرکزي آسيا په کچه د نړيوال لمړي جګړي نه وروسته ( ۱۹۱۵ م ) چه په کي يو عشاريه دوه مليون ارمنيانو قتل عام شول ، ساري نلري . جنايت د هغه بهرني  هيواد په توافق  باندي ترسره شو چه د امنيت په شورا کي غړيتوب لري او د بشري حقونو د دفاع په خاطر افغانستان ته تشريف راوړي دي .

نو دا احتمال چه امنيت شورا د افغانستان د اوږد مهالي جګړي د جنګي جنايت کارانو په اړوند د ځانګړي محکمي چه صلاحيتونه يي افغاني او بهرني اړخونو ته شامل شي ، جوړ کړي ، ډېر ليدل کيږي.  خو دا امکان شته چه محکمه د محدود صلاحيت په درلودلو سره جوړ شي . پدي معني چه د محکمي حکم يوازي افغانان تر پوشش لاندي ونيسي .

ب ــ  د عدالت د تامين په مقصد ، بل الترنتيف سزا نړيوال ديوان ته مراجعه ګڼلي شو. ديوان په ۱۹۹۸ م کال جوړ شو او تلپاتي بنه لري . د افغانانو او بهرنيانو د محاکمي د  صلاحيت  خاوند دي.

افغانستان په ۲۰۰۰ م کال د ديوان غړيتوب ترلاسه کړ. خو دلته دوه محدوديتونه مطرح کيږي :

ــ  د سزا نړيوال ديوان صلاحيتونه په هغه چا باندي نافذ کيږي چه د ۲۰۰۰م کال د مي مياشتي نه وروسته، تورن وګڼل شي . نو محکمه د هغو جنايتونو په  اړه حکم صادرولي نشي ، چه په افغانستان کي د کمونيستانو د واکمني په دوره  کي  تر سره شوي وو .

ــ  په افغانستان کي په وروستي لسيزه کي ګڼ شمير امريکايي سرتيري په جنګي جنايتونو تورن دي . کوم چه امريکا د سزا نړيوال ديوان غړيتوب نلري ، نوموړي جنايتونه ته پام  د محکمي د صلاحيت د ساحي نه لري پاتي کيږي .

****

د کابل واکمني او  هغي سره تړلي تورن کسانو د جنګي جنايت کارانو د محاکمي د داعيي د بي اغيز کولو په مقصد مختلف اقدامات تر لاس لاندي لري. د هغي جملي نه :

ــ  د وسله والو مخالفينو سره خبري اتري چه په ترڅ کي يي اوسني واکمني  په رسميت وپيږندل شي . په راتلونکي احتمالي سياسي تحول کي حکومتي امتيازات د مذاکراتو د اړخونو په منځ کی وويشل شي . تورن کسانو د دولتي امتيازاتو په درلودلو سره سياسي او حقوقي مصونيت تر لاسه کړي .

ــ  د جنايت نښي نښاني له منځه وړل . د مثال په توګه د « رادنورلند » د راپور ( نويارک تايمز ـ د جولاي ۲۲، ۲۰۱۲ م ) له مخي په ليلي دښته کي د بشري حقونو راپورتر ۱۳ دله ييزو قبرونو په نښه کړي وو چه په کي اتکل ۲۰۰۰ اسير شوي طالبان د دوستم د قواوو له خوا تر خاورو لاندي شوي وو . خو څو  مودي وروسته د قبرونو نه څه شي پاتي شوي نه وو .

د ملګرو ملتونو او سره صليب په مرسته بايد د جنايتونو د ارتکاب د نښي نښاني د ساتلو په مقصد يوه ځانګړي دفتر جوړ شي . دفتر به دنده ولري چه د ژوندي شاهدانو د آواز او تصوير کستونه ، د دله ييزو قبرونو د هويت سندونه د دفتر په آرشيف کي د موعود ورځي په تمه وساتي .

## نتيجه

ـ تر هغه وخته پوري چه اوسني واکمني په افغانستان کي د نړيوال نظامي ائتلاف په ملګرتيا په واک کي وي ، په افغانستان کي د جنګي جنايت کارانو د محاکمي تمه نکيږي .

عدالت د هغه واکمني په واسطه چه د جنګي جنايت کارانو پناهګاه وي ، تأمينيداي نشي .

ـ وسله وال مقاومت د خپلي واکمني په موده کي د جنګي جنايت کارانو سره جوړ نه وو . وسله وال مخالفين بايد د جنګي جنايت کارانو د محاکمي موضوع د هغو مذاکراتو د اجندا په سر کي ځاي ورکړي چه د بهرنيانو سره کيدونکي دي .

ـ که د جګړي د اړخونو خبري اتري په افغانستان کي د نوي سياسي فصل د راتګ پايلي درلودي ، د نوي واکمني له خوا :

په لمړي پلاو هغه ليست چه د بشري حقونو د کمسيون له خوا د تورنو کسانو نه تنظيم شوي ، خپريږي . پدي دول دوي د خپل محاکمي په انتظار د سياسي صحني نه لري کيږي .

په دوهم پلاو د کلک سياسي ارادي په بنست باندي د جنګي جنايت کارانو ، د بشري حقونو د سرغړونکو او د ملی خاينينو د محاکمي زمينه د افغانستان د ننه يا د باندي برابريږي .

توکل په خداي . « پاي »

دوکتور عثمان تره کي

فرانسه

د اګست ۱۵ ، ۲۰۱۲ م کال